# د پېژند په اړه



صمد بهرنگی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پېژند په اړه څو خبرې

## (تاريخ او ادبيات)

صمد بهرنگی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پېژند په اړه**

صمد بهرنگی

ژباړه:څرک

سمون:زیړ افغان

برېښنايي خپرېدنه او بیاکتنه: سلواغی۱۴۰۲

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د پېژند په اړه څو خبرې» د ایران د نامتو ښوونکی، لیکوال او ژباړونکي صمد بهرنګي د بېلابېلو مقالو ټولګه ده، چې په مختلفو مهالونو کې یې لیکلي او خپرې کړې دي. هغه دا مقالې تر ډېره د چنګیز مرآتي په نامه لاسلیک کړې دي. د دې مقالو پښتو ژباړه، هیله مندیو چې د نوي نسل د پوهې د بډاینې په برخه کې ګټوره تمامه شي.

د یادونې وړ ده، چې د کتاب پوښ د «جوردانو برانو» د سېزولو په طرحې ډیزاین شوی، برانو د کلیسا لخوا ژوندی وسیزول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

د نړۍ پېژندل........................................... ۱
د پخوانیو علومو او نوې پوهې پر پوله ........................................... ۱۰
اسکولاستیک، د تحجر او منځنۍ پېړۍ فلسفه ........................................... ۱۱
لیوناردو داوینچي........................................... ۱۵
ویلیام هاروي ........................................... ۱۹
کلیسا د نوې ستورپوهنې په وړاندې خنډ........................................... ۲۱
جوردانو برانو ........................................... ۲۳
ځمکه او اسمان د یو موټي خرافاتو په منګولو کې........................................... ۲۷
تیکو براهه........................................... ۳۰
کپلر........................................... ۳۱
ګالیلې........................................... ۳۲
د شعور، فکر او ژبې په اړه لنډې خبرې........................................... ۳۷
«د لمر د جوړښت» د کتاب ارزول او څو نورې خبرې........................................... ٤۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ پېژندل

د پوهې څواک بې له شکه پیاوړی دی. انسان، چې په پوهې سمبال وي، ماته نخوري.

آیا پوهه پخپله لاس ته راتلی شي؟ کېدی شي ځینې کسان سړي ته گوته ونیسي، چې دا هم شوه پوښتنه. که چېرې موږ پوه نه شو، چې په نړۍ کې څه تېرېږي، نو بیا په کې کار او ژوند کولای نشو. که چېرې علم توانېدلی نشوای چې یو څه لاس ته راوړي، نه یوازې دا چې د انساني نبوغ اریانوونکي آثار لکه مصنوعي سپوږمکۍ او سپوږمۍ مزلي توغندي او داسې نور به د لاسرسۍ وړ نه وای، بلکې ترټولو کوچني او ترټولو ساده کارونه به هم زموږ په وس کې نه وای.

خو بیا هم په دنیا کې ځینې کسان شته، چې وايي انسان نشي کولای د نړۍ په هکله کره او سم باور ترلاسه کړي؛ په بلې وینا، موږ نشو کولای نړۍ وپېژنو. بده به نه وي چې پوه شو د دې اند جرړې له کومه ځایه خړوبېږي.

پخوانیو به ویل چې پوهه رڼا ده، خو ټول رڼا نه خوښوي. ځکه چې د انساني عقل د رڼا د وړانگو د ځرک په پایله کې د نړۍ مشاهده، پدې مانا ده چې زیات شیان ووینو، د هغو په هکله مو پوهه ډېره شي او ځان د ډېرو کارونو د سر ته رسولو لپاره چمتو کړو. د تورتم دوام غوښتونکي له همدې ټکی ډارېږي. ځکه کله چې انسان ځان له ټولو هغو ټولنیزو او سیاسي قیودو او نورو بندونو څخه آزاد کړي، چې مریېتوب ته یې کاږي، او د خپل ځان څښتن شي، تر هر څه د مخه به د بې عدالتۍ په وړاندې ودرېږي او مریي وزمه ژوند به له مینځه ویسي.

دقیقاً همدلته دی، چې «کلیسا» د پوهې د ونې او انسان تر مینځ، چې لاس یې دې ونې ته غزولی، خنډ جوړوي. «کلیسا» په زغرده وايي، چې د رښتینې پوهې ان درشل ته رسېدل هم، زموږ په شان عادي او گناهکارو خلکو ته شونی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. په کراتو يې دا تبليغ کړې چې: پوهه ستر رمز دی او کونجي يې له عادي خلکو سره نشته.

نو «عادي او ګناهکار خلک» څه بايد وکړي؟ «کليسا» وايي:خپل عقل دې خوار او سپک وګڼي او يوازې دې باور ولري او دعا دې وکړي. دا د کليسا ځواب دی: مړه دې وي اند او تعقل! مرګ پر پوهې او رڼا!کليسايي او اسکولاستيک ليددود پرته له دې بله مانا نلري.

هغوی وايي د دنيا واقعي پېژندل ناشوني دي او پداسې کارونو کې لاسوهنه ګناه ده. يو شمېر ايده اليست فيلسوفان د کليسا د دې خبرې ملاتړ کوي. ايده اليستان پدې باور دي، چې نړۍ د پېژندلو وړ نده. دې فيلسوفانو ته «اګنوستيک» (لاادري) وايي. اګنوستيک يوناني کلمه ده، چې دوه برخې لري: «ا» يعنې «هېڅ» او «ګنوسيس» يعنې پوهه. يو اګنوستيست ګروهه لري چې: زه نه پوهېږم، چې په رښتيا سره په نړۍ کې يو بهرنی واقعيت شتون لري او يا يې يوازې زما حواس منعکسوي او يا يې په تصور کې راولي، نو د همدې لپاره وايم چې د دې موضوع د پېژندلو لپاره هېڅ لاره نشته.

**هيوم** او **کانت** د اګنوستيک ليددود وتلي استازي دي. کانت باورمن و، چې «انسان د هستي معرفت ته رسېدلی نشي او د حوادثو او پېښو په تړاو په بحث باندی بايد بسنه وکړي.»* هغه به ويل د شيانو واقعيت زموږ نه داسې پټ دی لکه چې د يو بند صدف په مينځ کې واوسي، نو په دننه منځپانګه يې پوهېدلی نشو او يوازې ظاهري بڼه يې څرګندولی شو.

د بېلګې په توګه انسان د دې وس نلري چې پوه شي، لمر او نور ستوري له کومو موادو څخه جوړ او د هغوی د رڼا او انرژۍ سرچينه څه ده. حال دا چې

---

*په اروپا کې د حکمت بهير – دويم ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږو چې علم د دې ادعا ناسموالی ثابت کړی.(د لمر د جوړښت کتاب، فارسي ژباړه دې وکتل شي).

اګنوسیستان وايي، چې موږ یوازې د خپلو حسي غړیو (سترګو، غوږونو او ...) له لارې اشیاؤ سره اړیکې ټینګوو او دا حسي غړي موږ غولوي او تېر باسي.

د ساري په توګه که یو پنسل په اوبو کې دننه کړو، کوږ به یې وګورو، پداسې حال کې چې دا واقعیت نه دی. نو موږ نشو کولای پر هغه څه باور وکړو او واقعیت یې وګڼو، چې حسي غړي یې راته وايي.

آیا په ربښتیا همداسې ده؟

انسان که د اګنوستیکانو خبرو ته غوږ شي، کېدی شي له ځان سره ووايي، چې انسان باید یوازې په عاجزه توګه کښېني او له خپل ځان نه چاپېره شیانو ته ځیر شي؛ خو انسان یوازې د طبیعت نندارچي نه دی. هغه فعال او پنځوونکی موجود دی. په کار او هڅو او له عملي کړنو سره دی، چې د خپلو حسي غړو د موندنو په قطعیت او واقعیت باندې ایمان راوړي او کولای شي د اشیاؤ جوهر او منځپانګې ته نفوذ وکړي او په مطالعې او څېړنې سره د طبیعي ښکارندو تل ته ورسېږي. په پورتنۍ بېلګې کې کافي دی، چې پنسل له اوبو راوباسي او باور وکړي چې کوږ ندی.

څرنګه چې روښانه شوه، دا پخپله ژوند او عمل دی چې باید تصمیم ونیسي، چې آیا کولی شو نړۍ وپېژنو او د هغې په منځپانګې پوه شو او که نه؟ د ګټورو کارونو او کړنو له لارې دی، چې انسان د خپل چاپېریالې نړۍ جوهر ته لاره مومي او هغه توضیح کوي.

نو د دنیا او د هغې د ښکارندو او اشیاو پېژندنه شونې ده او له پرله پسې لټون، تجربې او څارنې پرته بله لاره نشته. په بله وینا، هغه پوهه چې انسان یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ستومانه کېدونکو څېړنو په پایله کې د خپلو حسي غړیو له لارې تر لاسه کوي، واقعیت دی او پرې باور کولی شي.

اوس پوښتنه راولاړېږي، چې د نړۍ، طبیعت او ټولنې پېژندنه به د انسان د کار کومه غوټه پرانیزي؟ او څه اړتیا ده چې په قوانینو یې پوه شو؟

* * *

طبیعت ړوند او وحشي دی. موخه مې دا ده چې هر څه او هر څوک ورته یو شان دي. د هیچا لحاظ او د هېڅ شي خاطر نکوي. مثلاً زلزله یا اورشیندي، بډای او بېوزلي، رېښتیني او بدچلنده او دینداره او بې‌دینه یو شانې وژني. طبیعي ښکارندې په دود او دستور او اخلاقیاتو او شرع او عرف او پوهنې او روزنې نه پوهېږي. طبیعت تل وحشي دی. اورشیندي، سېل او تالنده او برېښنا او باد او باران نن په همغه اندازه وحشي او ویجاړونکي دي څومره چې د تاریخ دمخه پېر کې هم ول. د طبیعت وسله هغه وخت شنډېږي چې وپېژندل شي.

نباید وانګېرو، چې طبیعت هرج و مرج غوښتونکی دی او طبیعي ښکارندې د هېڅ نظم او قانون اېل ندي او بنسټ یې پر تصادف ایښودل شوی. تر ټولو کوچنۍ طبیعي ښکارنده (او همدا شان ټولنیزه پدیده) د علت او قانون تابع او د ټاکلي او بدلون نه منونکي نظام لاندی ده. دا د اوبو قانون او خاصیت دی چې په ټاکلو شرایطو کې د تودوخې په سلو درجو کې وخوټېږي او په صفر درجې کې کنګل شي. له هغې ورځې چې په پخوانیو زمانو کې سېلابیزه بارانونه ووریدل او د ځمکې هغه ژورې یې ډکې کړې چې انسانانو په کې ژوند نه کاوه، تر نن پورې چې د باران څاڅکي د اسمانځکو ودانیو او د انسان د لاس پر نورو زرګونو حیرانونکو پنځونو ورېږي، د اوبو د بخار تراکم تل د ځمکې د ساړه جو په ارتفاعاتو کې باران تولید کړی. دا یو بې استثنا قانون دی.

د یوې ورې چینې له خوټکېدو څخه نیولې د رادیواکتیو موادو تر وېشاک او او پېچلي آلی ترکیباتو فعل او انفعالاتو او د ساکښو تکامل او د سترو سیارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاذبې ځواک او د ژوو د بدن حيرانونکو کړو وړو پورې، ټولې ښکارندې جبراً د خپل بی پرې او ځانګړي قانون اېل دي. له کيميا او فزيک څخه نيولې تر ژوندپوهنې او نجوم او ټولنيزې پوهې او د کوسموګني (د ستوري پېژندنې هغه څانګه چې توجه يې د سماوي اجرامو او لمريزو منظومو بدلون او د ستورو د جوړونکې مادې د حرکت اړوندو مسئلو باندې ده)* په شان نوې پوهې پورې د علم ټولې ګڼې څانګې همدا ټکی تاييدوي.

البته طبيعي قوانين له بشر نه خپلواک او د هغه له ارادې پرته حکم چلوي. دلته شونې ده چې دې ناسمې پايلې ته ورسېږو چې: نو انسان تل د طبيعت د قوانينو بنديوان او مجبور دی. خو بې له ځنډه بايد زياته کړو، چې انسان تر هغه وخته بنديوان او اړ دی چې د طبيعت قوانين يې نه وي پېژندلي او د هغوی د عمل په واکمنۍ يې سر خلاص شوی نه وي.

يوه بېلګه راوړم:

لومړني انسانان سخت ناپوه وو. ويلی شو، چې هېڅ يو يې د طبيعت قوانين نه وو پېژندلي، نو ځکه تل په کړاو اخته وو. يو ناڅاپه(البته د هغوی په ګمان ناڅاپه)يخني راتله او د دوې به ساړه کېدل. ناڅاپي به هوا توده شوه او دوې به جل ووهل او ډېرې نورې ناڅاپي بلاګانې(!) به ګواکې پرې له اسمان يا ځمکې راتللې او يوه شېبه به يې دوې په کراره نه پرېښودل. وروسته د انسانانو پام شو، چې يخني او ګرمي د کال په ټاکلو مهالونو کې په خپل وار راځي او په هېڅ ډول ناڅاپي هم ندي او ځانګړی قانون لري. د اوړي او ژمي د قانون په پېژندلو سره انسان وتوانېدو په وخت ځانته جونګړه او پوښاک او وړ خواړه چمتو کړي او پدې ډول د يخنۍ او ګرمۍ ناڅاپي بلا دوی ته يو عادي او بې ضرره شی ګرځېدو.

بله بېلګه:

---

*«د لمر جوړښت» کتاب، ۱۴۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې د جاذبې ځواک جبراً هر څه د ځمکې مرکز په لور راکاږي:انسانان د دې قانون او د هغه د عمل د ډگر په پېژندنې او د هغې د مخالف لور د ځواک په جوړولو سره، جاذبه ځواک شنډوي او بيا الوزي.

د برېښنا د رڼا جوړول او د اختراعاتو گڼ شمېر ډولونه او د کرهنيزو محصولاتو په ډېروالي او لاډېر توليد کې حيرانونکي پرمختگونه ټول د طبيعت د ړندو قوانينو په پېژندلو او د هغوی په کارولو کې وُلې لري.

د الماں وتلي فيلسوف **هگل** به ويل، چې «جبر» ترهغې پورې ړوند دی چې مفهوم شوی نه وي. کولی شو پر دې وينا دا هم ورزياته کړو چې د انسان رښتونی «اختيار» او «آزادي» پدې کې نغښتې ده، چې پر طبيعت او ټولنې واکمن قوانين وپېژني.

پر طبيعت لاسبری د هغه د پېژندلو له لارې شونی دی. د طبيعت او ټولنې د قوانينو پېژندنه له بشر سره مرسته کوي، چې هغه په خپلو عملي کړنو کې وکاروي او پرې برلاسي شي.

کله چې يو قانون د پوهې له مخې کارورو او په هکله يې پوه شو، چې څه شی دی او ناپېژندلی او مرموز اړخ نلري، هغه ابلوو او پدې توگه قضا او قدر په تدريج له اعتباره غورځوو.

په هره اندازه چې انسان د هغو واکمنو قوانينو په اړه، چې دی د ژوندانه او طبيعي او ټولنيزو بدلونونو په ستره لاره کې پرمخ بيايي، لا لږ پوه وي، په هماغه اندازه به د دې ناپېژندل شويو او ړندو قوانينو په وړاندې ناچاره، «مجبور» او بنديوان وي. د دې مقرراتو په پوهېدو سره دی، چې انسان رېښتونې آزادي لاس ته راوړي او نه د هغو په ردولو او نه منلو سره.

دا قوانين په دوو څانگو وېشلای شوو: طبيعي او ټولنيز قوانين. دلته د دې موکه نشته، چې د دې دواړو څانگو په اړه بشپړې خبرې وکړو. يوازې يوه لنډه اشاره کوم، چې ټولنيز قوانين په خپله د انسانانو د عملي کړنو زېږنده دي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبيعي قوانين د انسانانو پيدايښت نه وړاندې هم موجود وو. سربېره پر دې، د دې دوو ډولو قوانينو تر مينځ د نژدې اړيکې له شتون هم انکار کولای نشو.

په دې بايد پوه شو، چې طبيعي قوانين له پېژندل کېدو مخکې او وروسته يوشان موجود دي او يوشان عمل کوي، خو له پېژندل کېدو وروسته د انسان په چوپړ کې راځي او عمل يې د انسان په ګټه تمامېږي. د بېلګې په توګه، وړاندې له دې چې نيوټن د کښښ (جاذبې) قانون کشف کړي، اسماني اجرامو د جذب ځانګړنه درلودله، خو انسان ورباندې نه پوهېدو او د همدې لپاره يې ډېر زيانونه ليدل او اوس، چې يې پېژندلې پرېمانه ګټې ترې وړي چې يادولو ته يې اړتيا نشته دی.

دا به سمه وي که ووايو، چې علم له کوم نوي او د داسې شي څخه، چې شتون ونلري، خبرې نه کوي. تر موږ مخکې شيان وو او زموږ پوهه له هغو څخه سرچينه اخيستی ده. موږ د علم له لارې هغوی او د هغو اړيکی مومو، کشفوو او پخپل چوپړ کې يې راوړو. ان کولای شو مخکې لاړ شو او ووايو: په نړۍ کې اختراع امکان نلري. د بېلګې په توګه، مګر مخکې له اديسن څخه د الکتريسته ځواک او پدې ځواک کې د ځانګړو شرايطو په شتون سره د رڼا د توليد ځانګړنې شتون نه لاره؟

* * *

لا د طبيعت د قوانينو کوچنۍ برخه پېژندل شوې ده. علم بې له دې، چې ستومانتيا وپېژني هره ورځ په مضاعفې چټکتيا سره د نورو قوانينو په لټه کې دی. هرڅومره چې انسان لاډېر قوانين کشف او هغه وکاروي، په همغه کچه به يې ژوند هوسا، سوکاله، خوندي، بې وېرې او بې اندېښنې وي. **د انسان د بقاء او برترۍ رمز، په همدې پوهنيز چلند کې نغښتی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته دلته مو موخه هغه ربړه، ناامني، وېره او اندېښنه نده، چې له ټولنيزو قوانينو سره تړاو لري، لکه د جګړې، انسان وژنې، بم، جاسوسي، زورواکۍ، ښکېلاک، ديوالي کېدنې، لوږې، وزګارتيا او له داسې نورو څخه وېره او اندېښنه لرل. دلته له اندېښنې او ناامنۍ څخه موخه هغه اندېښنه او ناامني ده، چې د طبيعت د ځواکونو نه پيدا کېږي.

البته د ټولنيزو قوانينو د پېژندلو له لارې هم کولای شو يادو ناامنيو او اندېښنو ته د پای ټکی کېږدو، چې دلته يې د بحث ځای ندی.

کولای شو د ځمکې او د نورو اسماني اجرامو د تشې هاخوا د واکمنو قوانينو د کشف او پېژندلو سره او د اړينې چمتووالي په برابرولو سره د ځمکې له بريده واوړو او پر لېرې پرتو ستورو ګام کېږدو. هيڅ لېرې نده، چې هلته د ځمکې د تمدن نه سل چنده ځلانده تمدنونه ومومو. هېڅ لېرې نده چې د اسمان په لېرې پرتو کې داسې يوه کُره وموندل شي، چې مثلاً د غنمو د کرلو ښه شرايط ولري. پداسې حالت کې داسې ستورې چې يو وخت د«بدې طالع او شومتيا او بدمرغۍ» سرچينه ګڼل کېدله، د انسانانو د ژوند او هوسايني سرچينه وګرځي.

بده به نه وي چې دې مسئلې ته هم اشاره وشي، چې انسانان د قوانينو او د هغوی د عمل د چاپېر په پېژندلو سره وړاندوينې کوي. مثلاً، نن هر ابی غاړی ماشوم هم پوهېږي چې اوبه په اور تودېږي او خوټېږي.

دا پخپله کولی شي د بلې مقالې موضوع شي.

*   *   *

وروستۍ خبره دا چې:

د هر علم موخه د هغه علم پر ډګر د واکمنو قوانينو پېژندل او بيا په عملي ژوند کې د دې قوانينو کارول دي. البته دا تعريف د طبيعي علومو په څېر، ټولنيز علوم هم رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لاوروستۍ خبره دا چې:
د لانبه او خوشاله ژوندون لپاره د طبيعي او ټولنيزو قوانينو پېژندل سل په سلو کې اړين دي.

چنگيز مرآتی
مهد آزادی آدينه
وری ۱۳۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پخوانیو علومو او نوې پوهې پر پوله

اروپايي پوهه څنګه د کليسايي او منځنۍ پېړۍ له «اسکولاستيکو» منګولو نه وژغورېدله؟ په اروپا کې د پخوانيو علومو او نوې پوهې ترمينځ د کشالې کيسه سخته په لوستلو ارزي. د کليسا اصحاب او متېکوراندي به د علم په ګڼو ځانګو کې له پرمختګ څخه وېرېدل او د سپېڅلي کتاب او «اسکولاستيک» بې بويه او بې خاصيته فلسفې شاته په سېما وړلو سره به د نوې پوهې په وړاندې خنډ جوړېدل. خو نوې پوهه د بهانده او ځپانده سېل په شان په توندۍ مخ په وړاندې تلله او پرته له حقيقت نه يې بله پوله او بريد نه پېژانده: هغه حقيقت چې په ازمېښتځيونو او د نجومي دوربينونو له شا دوی ته رسېدلی و او دې حقيقت د زاړه پالو او مقام پرستو د خيال اوبدونکې ګروهې بنسټ له بېخه ايستلو. حقيقت پرېکنده او بی لحاظه و. د ځمکې کُره يې له مرکزيت (دکائناتو له مرکزيت – ژباړن) څخه رااېستله. ستوري يې کروي او خوځنده ګڼل. لمر يې په فضا کې له زرګونو لمرونه څخه يو ګاڼه. افلاطون او هغه نور فيلسوفان يې خطاکار ګڼل، چا چې په پېړيو يې د نړۍ پر افکار او کړنو فرمان چلولی و او د لسګونو نورو فيلسوفانو غبر يې له غوږونو لېرې ساتلی و، ولې چې هغو بل ډول فکر کاوه.

په دې مقاله کې مو لټه دا ده، چې په اروپا کې د پخوانيو علومو زوال او د نوې پوهې غوړېدل په ګوته کړو. د دې کار لپاره بايد د منځنيو پېړيو د «اسکولاستيک» فلسفې نه پيل وکړو تر څو د «پخوانيو علماو» د اند دود لامل څرګند کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسکولاستیک، د تحجر او منځنۍ پېړۍ فلسفه

له هغه ځایه، چې په منځنۍ پېړۍ کې علمي او حکمتي*بحث تقریباً له یوه سره هغه څه ته منحصر و، چې د کلیسا او صومعې ګانو په مدرسو کې تر سره کېدو...او مدرسې ته یې په لاتین ژبه کې **اسکولا** ویل، نو لدې امله یې د هغه پېر تول علم او حکمت یې اسکولا پسې تړل، نو **اسکولاستیک به** یې بلل.**

په یوه جمله کې ویلی شو، چې د اسکولاستیک فلسفې کار دا و، چې علم له دین سره همغاړي کړي او سپېڅلي کتاب تفسیر او تشریح کړي او وښیي هر څه چې په سپېڅلي کتاب کې راغلي سوچه حقیقت دی او بل ډول فکر کولای نشو. د دې کار په پایله کې تعبد د ځارلو او تعقل ځای ونیو. د عجیبو او غریبو کشالو او تفسیرونو بازار تود شو. آزادۍ له پوهانو څخه واخیستل شوه. د قوم اندیالو هرڅه پرېښودل او په داسې موضوع ګانو کې په خیال اوبدلو او کشالو پسې ونښتل، لکه: د هبوط په شېبه کې د حضرت آدم ونه او قامت څومره و! د ادم له خلقت نه وړاندې پرښتې چېرته دېره وې؟ او ...

له داسې انددود سره عجیبه به نه وي که وویل شي، چې د نوې پوهې استازو د پخوانیو علومو د اصحابو له لاسه ښه ورځ نه درلوده. تر هغه پورې چې ژوندي ژوندي به د اور په لمبو کې سوځول کېدل.

له دیارلسمې پېړۍ نه راپدېخوا، چې د اروپاییانو فکري غورځنګ پیل شو، هغه کس به چې په ازمایښتخونو کې د تجربې او ځارلو په مرسته څرګندو حقایقو ته رسېده او دا حقایق به د ارسطو او افلاطون او سپېڅلي کتاب خلاف راوتل، په همغه شېبه به یې ورځ توره او د کفر او بې دینۍ داغ به یې په تندي لګېده. د لرګو

---

* حکمت ته عقل، پوه او هوښیاری هم ویل کېږي. دا اصطلاح په ختیځ او په اسلامي نړۍ کې د فلسفې معادل کارول کېږي. پښتو. ژ

**په اروپا کې د حکمت بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرۍ او د اور لمبو به د هغه پېر د پوهې غږ وژلو او چا حق نه درلود، چې نوې خبره وکړي. او ټولو باید د پخوانیو کسانو په شان فکر کړی وی. څارنې او تجربې علم ته لار نه درلوده او ازمېښتځی د کفر مرکز ګڼل کېده.

د ازمایښت نلکې به یې د بې دینۍ او فساد وزلې ګڼلې.که څوک غواړي غاټول وپېژني، نو پوهېږو چې بې له ځنډه باید باغونو او ګلخونو ته ولاړ شي، خو په هغه پېر کې داسې نه و. د دې کار لپاره د ارسطو نظر باید له کتابه راویستل شوی وای او د کار معیار ګرځولای وی؛ پوهه یې په کتابونو کې لټوله. پوهانو طبیعت ته لار نه درلوده.

کلیسا د خپل ځواک ساتلو لپاره د اسکولاستیک تفکر په دودولو بوخته وه، ځکه چې پوهېده د ربښتوني علم له پرمختګ سره به خلک د کلیسا دستورونو ته کوم ارزښت ورنکړي. لکه د لوربنود (قطب نما) له اختراع وروسته، بېړۍ چلوونکو پرته له وېرې او اندېښنې او پرته له دې چې د صلیب نښه پر سینې انځور کړي، د سمندر له غاړې نه لېرې لاړل او لاره یې هم ورکه نکړه.

د اسکولاستیک انددود پایله دا شوه، چې «علمي څېړنه د دې پر ځای چې دچارو  او حقایقو پر څارلو، تجربیاتو، تعقل او مطالعې ودربېدلې وي، ګردې د پخوانیو په ویناوو ودربېدلې وې. نوي افکار یې نه څرګندول او د نویو آرونو او حقایقو په لټه کې نه وو. یوازې د تېرو پوهانو تعلیمات یې جوت حقایق ګڼل او  د ماخذ په توګه یې کارول او تل به یې د بحث موضوع ګرځول.»*

خو سربېره پر دې، هېڅ څه د نوې پوهې د څپاند سېل د بهېدلو خنډ ونه ګرځېدل. اروپاییان د ګنو لاملونو له کبله له نورو فکري ډولونو سره اشنا شول او د پخوانیو علومو د ورستو زنځیرونو په شلولو یې پیل وکړ او د پخوانیو علومو او نوې پوهې ترمینځ سخته جګړه  پیل شوه. کټ مټ په هغه پېر کې چې پوهنتونونه او

*په اروپا کې د حکمت بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي او فلسفي ټولنې د کليسا د دستور او فشار لاندې يوازې د سپېڅلي کتاب او د ارسطو د ليکنو او ويناوو په تفسير او لمنليکنې بوخت وو، په بېلابېلو څانگو کې د نوې پوهې سوزونکي اور د ايرو له لاندې سر راپورته کړ او بې له دمې يې جگړه وکړه، تر هغو چې بريالی شو او هڅه يې کوله، چې لا بريالي شي.

لکه څنگه چې مو وويل، د اسکولاستيک فلسفي موخه د اند کنلگتيا او د علم او دين ترمينځ د جوړجاړی رامينځ ته کول وو. کليسا له نوښته هومره ډارېدله او تښتېدله، چې بريد يې نه لاره، لکه څنگه چې د «**لابار**» په نوم يو نجيب زاده يې تورن کړ، چې د مذهبي ډلو په وړاندې يې دوديز درناوې او تعظيم نه دې پرځای کړی او د دې ترڅنگه يې د منع شويو کتابونو له لوستلو يې هم ډډه کړې نده. البته د دې منع شويو کتابو په منځ کې د فلسفي او معمولي قاموس نوم هم راغلی. د دې ځوان ژبه پرې کوي او وروسته دی په اور کې سوزوي.*

له دې کبله هغه پوهانو ته بايد آفرين ووايو، چې د کليسا د دومره جابرانه واکمنۍ سره سره يې بيا هم پښې د زړو او پخوانيو گروهو له بريده واړولې او نوې پوهه يې مخ په وړاندې يووړه.

ستر انديال **پيير روسو** ليکي: د ارسطو ستره ونه او قامت د انسان او طبيعت ترمينځ لا له مخه ډېر واټن رامينځته کړی و.

دا د مبالغې خبره نه ده. خلکو داسې گمان کاوه، چې د طبيعت ټول اسرار ارسطو کشف او پخپلو کتابونو کې يې راغونډ کړي دي. له دې سره بايد حدس ووهو، چې د اروپا طبي علم څه وضعيت درلوده. لنډه دا چې طب د حريصو جادوگرانو، دعا ليکونکو او سولندو پادريانو لاسونو ته لوېدلی و.

همدغه مهال و، چې اسلامي تمدن خپل ځلانده پير تېراوه. د علم په ټولو څانگو، لکه په رياضي، فيزيک، طب او ... کې مسلمانان مخکښه وو، ځکه چې

---

*د آزاد اندۍ تاريخ، د نصرالله معمائی ژباړه، ۱۰۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اند تازه سرچینو ته یې لاسرسی موندلی و، چې په هغه وخت کې په ځانګړې توګه ډېرې زیاتې تازه ښکارېدلې. د اسلامي هېوادونو پوهانو په طب کې داسې څېړنې درلودې، چې په بشپړه توګه تازه وې.

**رازي** او **ابن سینا** د ډېرو ناروغیو په هکله پرېمانې څېړنې او څېړنې وکړې او ځلانده پایلې یې ترلاسه کړې. همدا و چې مسلمانو طبیبانو په صلیبي جګړو کې پر اروپايي طبیبانو ملنډې وهلې، ځکه چې د هغو علم یې ډېر لومړنی ګڼلو.

خو د دولسمې پېړۍ نه وروسته په اروپا کې د نوې پوهې د ځلاند دوران سره سم، اسلامي تمدن په تورتم کې ډوب شو. لکه څنګه چې انسان پېژندنه له مینځه ولاړه، نو د دې لپاره چې د اشخاصو د ویر او اندېښنو مخه ونیسي، ورغوی کتنې ته یې مخه کړه. موهومات او ارتاویزې یې طب ته رادننه کړل او هغه یې د بې مانا فرمولونو او کوډو په بڼه وړاندې کړل.

اروپايي طب څرنګه له جادوګرۍ او خرافاتو څخه جلا شو او د انسان د بدن د کارخونې د مطالعې پربنسټ ودرېد؟ څرنګه پوهانو په ناروغیو کې د «اسماني برجونو» لاسوهنه باطله کړه؟ څرنګه د طب پوهې خپل بنسټ ته پام شو او د ناروغانو د ښه کېدو لپاره یې طبیعت ته مخه کړه او هغه یې کشف کړ؟ د طبیعت کشف څه ګټه لرله؟

د دې پوښتنو ځوابول ډېر وخت او مهال غواړي. په دې لنډون کې هڅه کېږي چې د نوي طب پر مخکښانو باندې د تېرو شویو پېښو د یادولو په ترڅ کې، پورته پوښتنو ته هم لنډ ځواب ورکړل شي.

* * *


(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیوناردو داوینچي

**(۱۴۵۲-۱۵۱۹)**

داوینچي باید د هغه کسانو په ډله کې ونوموو، چې د انسان د ناروغۍ لامل د کشف لپاره یې پخپله انسان ته مخه کړه. که په لا ځرګنده توګه یې ووایو، هغه د انسان بدن تشریح کړ. په دې توګه یې ارسطو عملاً څنډې ته کړ او که په لا روښانه توګه یې ووایو، ارسطویي چال چلند ته یې د جګړې اعلان وکړ. هغه غږ پورته کړ چې علم باید پر څارلو او تجربې ډډه ووهي.

ویلی شو چې هغه د دې لیددود له مخکښانو څخه و، چې باور یې درلود، **هر څه چې بې له تجربې او څارلو لاس ته راشي، علمي نه دی**، نو د همدې لپاره د ډاډ او منلو وړ هم نه دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

داوينچي ونه غوښتل، چې د خپل نظر د اثبات لپاره له ارسطو نه مرسته وغواړي. دی پر دې باور و، چې هر څوک د مشرانو پر وينا استناد کوي، په حقيقت کې د خپل عقل پرځای له خپلې حافظې کار اخلي.

**پيير روسو** د **داوينچي** د کارونو په هکله ليکي:

ده هغه علم واقعي علم گنلو، چې د ازمايښت په پايله کې لاس ته راغلی وي. هغه د دويم پاپ، **ژول**، لخوا اجازه لرله، چې د انسان جسد تشريح کړي، خو يوازې تر هغه حده چې د پاپ په اجازه ليک کې يې يادونه شوې وه. خو داوينچي به د دې حد نه هم تېرى کاوه او يوازې د خپلې هنري اړتيا – د انسان د بدن د هډوکو په جوړښت کې ځيرتيا – لپاره يې کار نه کاوه. هغه د بدن د غړيو په آزادانه تشريح او مطالعې بوخت شو. د زړه د حرکتونو په هکله يې مطالعه وکړه. پداسې حال کې چې د اجسادو د خوساکېدلو مخنيوی يې کاوه، دا يې کشف کړ چې د انسان د پنډۍ هډوکي او د اس شاتينې پښې څرنگه عمل کوي. د انسان د مفصلونو د کار ډول يې هم کشف کړ.

*  *  *

نبايد وانگېرو، چې خرافه پاله طبيبان يو ناڅاپې له منځه ولاړل او نور داسې څوک نه و چې د ناروغيو علت په برجونو او ستورو کې ولټوي. **ژان فرنل**، داسې کس و چې طب يې يوځل بيا د ماوراء الطبيعه لورې ته يووړ او ويې ليکل: د مرض پيل هغه وخت نه دی چې لومړنې نښې رامنځ ته کيږي، بلکې بايد حساب وکړو چې هغه مهال سپوږمۍ په کومه مياشتې کې وه!

په دې توگه په داسې حال کې چې **فرنل** او د هغه په شان کسان په مريژنه توگه د علم په وړاندې خنډ گرځېدل، نوي طب د تکامل لاره وهله. **پاره** د ټپ په گنډلو کې ځينې برياوې لاس ته راوړې او د ويني تويېدنې د مخنيوي لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زاړه او پخواني چلند پر ځای، چې زخم یې په سرې وسپنې او خوټېدلو غوړیو سوزاوه، د لومړي ځل لپاره د ټپ تړلو لپاره بنداژ وکارولو.

*      *      *

د علم گام په گام تدریجي پرمختگ د «**اسکولاستیک**» لیددود متزلزل کړ: د پخوانیو ویناوې او لیکنې یې بې اعتباره کړې. خلکو ته یې زده کړ چې هر هغه څه چې سپېڅلی کتاب یې وایي او کلیسا یې سم گڼي، نشي کېدلای چې سوچه او نه بدلېدونکی حقیقت وي. د طب علم پرمختگ او انساني تشریح، د کلیسا موتی خلاص او **جالینوسي** طب او ارسطویي افکار یې رسوا کړل.

نو ځکه نباید حیران شو، چې ولې کلیسا ستر طبیب **میشل سروه** د خدای نه پېژندونکي په نوم په اور کې وسوځاوه. دې شخص «د نصرانیت میراث» په نامه خپل کتاب کې لیکلي و، چې وینه د سږو څخه تېرېږي او هلته د هغې هوا په واسطه چې موږ یې تنفسوو ، چڼېږي.

همدې کشف د کلیسا غوسه راوپارله او دا ستر پوه یې د اور په لمبو کې ژوندی وریت او وسوځو.

**وزال** هم د جالینوسي طب او ارسطویي تفکر د ماڼۍ په پرزولوکې ستره ونډه لري. وزال هغه روښان اندی طبیب و، چې د کوډو او سپېڅلي کتاب او اسماني برجونو د کارونې پر ځای د انسان د بدن د کارخونې په تشریح او مطالعې بوخت شو.

پییر روسو لیکي: هغه سربېره پر دې چې د بدن هډوکي، مفصلونه او عضلې یې په دقت سره تشریح او طبقه بندي کړې، د انسان بدن یې د یو بشپړ میکانیکي سیستم په توگه وگڼلو، چې هیڅ یو غړی یې نشي کولی په جلا توگه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کار ته ادامه ورکړي. هغه د بدن عضلې او هډوکي د ژوند په عادي حالت کې وښودلې.

**وزال** یې یوه ورځ د یو نجیبزي د کټ سر ته راوباله. نجیبزی تن په تن جګړه کې ټپي شوی و او مرګ ته یې څه پاتې نه و. څو شېبې وروسته د ناروغ خپلوانو هک پک ولیدل، چې دې پوه او تشریحګر عالم د ناروغ ټټر پرانیستې او د زړه ننداره یې کوي.

آیا **وزال** د پوهې په مینې هغه بدمرغی وژلی و؟ د هغه په څېر له شوره ډک انسان څخه دا کار هومره لېرې هم نه و. په هر حال «د عقایدو تفتیش محکمې» دا عالم په اعدام محکوم کړ.

*　　*　*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویلیام هاروي

**(۱۵۷۸ - ۱٦۵۷)**

د جالینوسي طب له نظریې سره سم، زړه د روح مرکز او ځای و. هېڅ چا هم اعتراض نه درلود. د **جالینوس** وینا دربست د کلیسا د منلو وړ او پدې توګه د پوهانو د منلو وړ هم وه. سربېره پر دی، د جالینوس نظر دا و چې په ځیګر کې هم وینه شته. خواړه معدې ته تر رسېدو وروسته هضمېږي او بیا کولمې خواړه ځیګر ته وړي. په ځیګر کې خواړه په وینې بدلېږي او په بدن کې بهېږي.

دا ناسمه او غیرعلمي نظریه، پر اټکل او ګمان ودرېدلی وه. هاروي د خپل نظر له تشریح سره دا ناسم نظر راوپرځاوه. هغه وویل: د کتاب د پاڼو په مینځ کې نشو کولی د غړو تشریح او دندې زده کړو. د انسان د بدن د تشریح یوازینۍ لاره، د کالبد څېړل او تجربه ده، او په دې فن کې د پرمختګ لاره هم د فیلسوفانو خبرې نه، بلکې تجربه او څارل دي.

د **هاروي** عمده کار، د وینې د ګرځېدلو کشف دی. هغه له ځانه سره داسې استدلال کوو:

فرض وکړو، چې زړه په هره دقیقه کې ۷۳ ځله وډېږي، او هغه سوری چې وینه ترې صادریږي، یوازې شپیته ګرامه وینه ولري، نو په دې صورت کې د انسان زړه شاوخوا ۲۵۰ کیلوګرامه وینه په یو ساعت کې بدن ته دننه کړی ده. دومره وینه چېرې ځي؟

هغه مهال و، چې خپله عمده فرضیه یې وړاندې کړه او ویې ویل: دا مساله په بدن کې د وینې د دایمي ګرځېدلو له لارې حلېږي. څه موده وروسته استدلال او ازمایښت، د هاروي د فرضیې سموالی ثابت کړ.

په دې وخت کې بیا بیړاګان او هغه طبیبان، چې نه یې غوښتل ووینې او نه یې زغملی شول، چې څنګه د جالینوس د واک مانۍ رانړېږي؛ راپاڅېدل او د **هاروي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغه په شان نورو کسانو د کار خنډ وګرځېدل. پدې پېر کې د طبابت د عنوان لاس ته راوړل هم ستونزمن کار نه و. هر چا به چې ځانګړې جامې او د شپې خولۍ اغوستله او په ماته ګوډه لاتینه ژبه به یې خبرې کولې، ځان طبیب باله.

**مولیر** د دې بې سوادو او بیړا طبیبانو په هکله جالبه وینا لري. هغه وایي:

د هغوې طبي نسخې او دستورونه د اماله کولو، رګ پرې کولو او بیا وروسته له مسهل نه وړاندې نه تلل. نشتر او کسټر غوړو ته یې هم ډېر ارزښت ورکاوه.

* * *

هغه څه چې مو ولوستل، د نوې پوهې او پخوانیو علومو ترمینځ د پیل شوې جګړې نیمګړې نندارہ وه: هر اړخیزه جګړه، د انددودونو جګړه، د علمي حقایقو جګړه، د ښه ژوند لپاره جګړه، د ژوند د پېژندلو او د هغه د بدلون جګړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## کلیسا د نوې ستورپوهنې په وړاندې خنډ

اوس مو چې د طب پوهنې اوږده او بريالی جګړه ولوسته او هغه خنډونه مو وپېژندل، چې کليسا به د انساني او اخلاقي آرونو د ساتنې په نوم د طب په وړاندې جوړول، اوس به نجوم او هغه جګړه چې ستورپېژاندو او رياضي پوهانو د پخوانيو علومو (توراتي او بطليموسي هيئت*) او د هغه ملاتړې کليسا په ضد پيل کړې او هغه سربښندنې، چې په دې لاره کې وشوې، تر ارزونې لاندې نيسو.

رياضيات او نجوم د شپاړسمې پېړۍ له دويمې نيمايي راهيسې نوی ژوند پيلوي او هر چېرې، «اسکولاستيک» او کليسا او سپېڅلي کتاب ته د جګړې اعلان کوي. بايد زياته کړو چې «اسکولاستيک» او کليسا تل له حسي اړيکې او عينيت څخه په تېښته وو. له همدې کبله يې په سر تمبه توب هڅه کوله چې علم له طبيعت او د هغه له قوانينو نه لېرې وساتي. په دې پوهېدل چې طبيعت ته نژدېوالی او د عينياتو د مطالعې او ازمېښتونو دودول به د هغوې د ايده اليزم د ماڼۍ له نسکورېدلو سره سم وي.

په هر اندازه چې د زوړپالنې او خرافاتو په وړاندې سرغړونه پياوړې کېده، دا دواړه _ اسکولاستيک او کليسا_ لا پسې يو بل ته نژدې کېدل. کله چې د نوي نجوم پوهې، د کليسا خيالي ماڼۍ او بلوسګره ځواک وګواښه، دې ماتې خوړلې فلسفې، د مخالفانو د سوځولو او د خپل څپڅپانده قدرت د ساتلو لپاره، د لرګيو د لويو ډېريو څخه کار واخيست.

په ۱۵۴۳ کال کې پولنډي **کوپرنيک** په څرګنده اعلان کړه: دا ځمکه چې پخوا د اسمانونو د بې حرکته مرکز په نوم پېژندل کېده، سربېره پر دې چې له ځانه

---

*هيات هغه دودېزه ستورپېژندنې ته ويل کېږي، چې د اسماني ستورو حرکتونه او ځايونه مطالعه کوي. پښتو.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېره څرخي، له لمره هم راچاپېره تاوېږي. په داسې حال کې چې د تورات او پخواني هیئت له نظره دا یوازې لمر دی چې له ځمکې نه چاپېره څرخېږي. تورات کې په ښکاره ډول لولو، چې د «**ژزوئه**» په دستور لمر له حرکت څخه ودرېدو، تر څو هغه خپله بریا پای ته ورسوي.

آیا شونې ده چې سپېڅلی کتاب دې ناسم ووایي او تېروتنه وکړي؟

**کوپرنیک** په خپل ټول ژوند کې د دې پوښتنې له پوښتلو یا هغې ته له ځواب ورکولو څخه ډډه کوله او ژوند یې له کلیسا سره په سولې او پخلاینې کې پای ته ورسېد. خو هغه ګړۍ شمېره بمب، چې **کوپرنیک** د کلیسا مخې ته ایښودلی و، وروسته وچاودېد او کلیسا ته یې ډېر خطرونه جوړ کړل.

پيير روسو لیکي، چې وروسته له هغه چې د **کوپرنیک** د مرګ نه پنځه ویشت کاله ووتل، یو ناڅاپي د هر ګوټ او هر ځای نه د اعتراض فریادونه راپورته شول او د **بطلیموس** د پلویانو د لعنت او نفرین غږ د **کوپرنیک** د پلویانو او ستاینکو له چغو سره ګډ شول.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوردانو برانو

**(۱۵٤۸-۱٦۰۰)**

**جوردانو برانو** د **کوپرنیک** د فرضیې نه د دفاع او د افسونګرۍ په تور د انګیزیسیون (په کلیسا پورې تړلی د عقایدو د تفتیش سازمان) د تورو تمبو شا ته د اته کالو له تېرېدو وروسته د اور په لمبو کې ژوندی وسوزېدو. هغه د **ګالیله** ملګری هم و.

د دې پېښې نه دوه زره کاله وړاندې، **فیثاغورث** او د هغه یاران د ځمکې پر ګرځېدلو پوه شوي وو، خو په داسې دنیا کې چې د ځمکې مرکزیت او سکون، د شتمنو او زورواکو د حکومت بنسټ و، د فیثاغورث او یارانو نظریه له یاده ووتله او بطلیموسي هیئت او د **ارسطو** احکام او له ساکنې ځمکې نه چاپېر د بلورینو غږ جوړونکو اسمانونو ګرځېدل، په سپېڅلتیا بدله شوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د زیاتولو وړ ده، چې د پخواني نجوم په باور هر ستوري د هغه بشقاب په بڼه دی، چې د اسمان پر بلورین چت پورې نښتی دی او هر څه د ځمکې نه چاپېره په گرځېدو دي او ځمکه ثابته او د نړۍ مرکز ده. کلیسا د دې نظریې نه په عامیانه تعبیر دا پایله واخیسته، چې د پاپ ماڼۍ هم د ځمکې مرکز دی او په خپله پاپ د ځمکنیانو ساتونکی دی.

ځمکه باید د نړۍ مرکز او ساکنه وي، چې د پاپ ماڼۍ د ځمکې مرکز او **ثابته** وانگېرلې شي. په پېړیو یې ویلي، چې پر بلورینو گنبدو انځور شوي ستوري د ځمکې چاپېره په دې موخه گرځي چې د ځمکې خدمت وکړي، نو پر ځمکې هم مالکان داسې یو مرکز گرځېدلي، چې ټول رعایا باید ترې چاپېره وگرځي. که بلورین اسمانونه سره دړې وړې شي او ځمکه هم د بې شمېره ستورو په شان یو گرځېدونکی او بی قراره ستوری شي، څه مالوم «هغه بزگران چې په ځپلو کروندو کې یې وروستۍ سلگۍ هم اخیستل کېږي» د خپل رنځ او بېوزلۍ په حکمت شکمن نشي؟ دا د ډار هغه ژوره کچه ده، چې کلیسا یې د سپېڅلي ارسطو د احکامو له نقضېدلو څخه لري.

همدا وه، چې د پخوانیو علومو او د نوې نجوم د پوهې تر مینځ ستره او خونړۍ جگړه پیل شوه.

مخکې له دې چې د نوي نجوم د مخکښانو پر سر تېرو شویو پېښو ته اشاره وشي، بده به نه وي چې په اروپا کې د «مذهبي رفورم» په اړه هم څه خبرې وشي.

**لوتر** په شپاړسمې پېړۍ کې د **کاتولیک** کلیسا په مذهب کې د اصلاحاتو غوښتونکی شو او په دې توگه د یوې سترې مذهبي تفرقې بنسټ کېښودل شو. سمون غوښتونکې فرقه، **پرتستانت** ونومول شوه.

د **کاتولیک** په خلاف **پرتستانت** مذهب؛ «فرد» لاس ترلی او ژبتړلی د پاپ او کلیسا واک ته نه ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «لغت نامې» څښتن، علي اکبر دهخدا، داسې ليکي: «د کاتوليک کليسا ځان د هغه حقيقت يوازينی حافظ او قاضي ګڼي، چې په سپېڅلي کتاب کې ليکل شوی او د سنت له لارې حفظ شوی او د پاپانو عالي شورا لخوا تاييد شوی دی. د دې په خلاف، پرتستانتان د ايمان کچه سپېڅلی کتاب ګڼي، خو «فردي عقل» معتبر او د هغه مفسر ګڼي.»(د پرتستان تر مادې لاندې)

د **روم کليسا** چې کله ګوري، چې د مذهب په ډګر کې رفرم د فکري آزادۍ د پراختيا په لور پر مخ ځي، خپلې هڅې پيلوي؛ ان دا چې په اولسمه پېړۍ کې د **ديارلسم لويي** وزير، **ريشيليو**، پرېکړه کوي چې د پرتستانتانو مصونيت باطل کړي او کوي يې.

لږه موده وروسته يو فرمان صادرېږي، چې د هغې له مخې بايد د پرتستانتانو ټول معابد ړنګ کړي. د عبادت ډول او رسم يې ممنوع شي او مدرسې يې وتړل شي او ...

هغه وزيران، چې د پرتستانت مذهب د بطلان د اعلام او تصويب نه ډډه کوي، تبعيد او مخالفان سخت شکنجه کيږي او د مړييانو په شان په بېړيو کې په راشپېل وهلو محکومېږي.

«ټول په دې پوهېږي چې دا دستورات په څومره تاوتريخوالي او سختۍ سره پلي کېږي. ټول په دې پوهېږي چې دا منشور فرانسې ته څومره ناخوالې ورپه برخه کوي. خو عجيبه دا ده چې دا کړنې د **مېرمن سويه** او **لافانتين** او **بروئر** په شان پېژندل شوو کسانو لخوا هم تاييدېږي.»*

نوې پوهې د ځارلو او ازماينښت په مرسته په پېړيو جګړه وکړه، چې د زړو دودونو د استبداد جغ لېرې واچوي. لومړی ځل متجددو هنرمندانو پر ارسطو سخت ګوزارونه وکړل او د هغه بېلګه شوی شخصيت يې ونړاوه. وروسته **وزال** او

---

*د آزاد اندۍ تاريخ ـ څه پوهېږو؟- ټولګه، مخ ۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سروه**، جالینوسي طب یو موټی اپلتې وبللې.بیا نو **کوپرنیک** ته وار ورسېد او هغه په احتیاط او نظم سره، د بطلیموس نجومي احکامو جرړې راوویستلې.

دې پېښو او بهیرونو، وچ مذهبي انضباط او زوړ اخلاق ولړزاوه. په دې موده کې چې «مذهبي رفورم» کاتولیک کلیسا له نوي خطر سره مخ کړې وه، د کلیسا واکمنان په لټه شول، چې په وارخطایۍ د سپېڅلي کتاب مرستې ته ملا وتړي او مذهب د نوې پوهې له منګولو نه وژغوري.

د دین د مشرانو ټولنه په چټکۍجوړه شوه او ټول «ضاله **او خطرناک** کتابونه» یې په نابودۍ محکوم کړل. علمي پلټنه کبیره ګناه وګڼل شوه. د دې لپاره چې د بې دینۍ او مذهبي چارو پر وړاندې د بې پروایۍ څپاند سېل مخې ته خنډ راولاړ شي، هر چېرې لرګي ډېرۍ شول، چې «ملحدان او کافران» په کې وسوځوي.

د تجدد د پلویانو په له منځه وړلو سره د نوې پوهې د تکامل بهیر لنډمهال ودرېدو، خو د کلیسا بې ثمره هڅې کوم ځای ته ونه رسېدې. **پییر روسو** لیکي: «حقیقت د زندان په تورو تمبو او د اور په لمبو پورې خندېده.»

همدا چې د علمي مسائلو په هکله بحث منعه شو، څېړونکو د طبیعت په مشاهدې لاس پورې کړ. پداسې حال کې چې کلیسا علمي بحث، استدلال او تعقل محکوم کړي و، د پوهې خاوندان لاس تر زنې کېنناستل او د طبیعت په حیرانونکو ښکارندو کې په څېړونو بوخت شول. د جهان د جوړښت او د ستورو په شمېرلو کې په څېړنې او د هغوی د جدولونو په تنظیمولو بوخت شول او کلیسا د دې لټونو او پلټنو د پایلو نه بې خبره، د هغوی په وړاندې کوم خنډ رامنځته نه کړ. پدې توګه د نویو او پرېکندو عقایدو څپاند سېل رهي شو او د کلیسایي خرافاتو جرړې یې راوویستې. د نویو عقایدو دغه څپاند سېل، د ریاضي د سترو متفکرانو له مغزو څخه سرچینه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځمکه او اسمان د یو موټي خرافاتو په منګولو کې

د ارسطو افکارو پر اروپا دولس پېړۍ حکومت وکړ. دا دولس پېړۍ د بشري ژوندانه د ټولو تورتم پېرونو څخه یو دی، هغه دوران چې د تورتم پېړۍ یې بولو. پدې پېر کې **کیمیاګری** د کیمیا او طالع لېدنې د نجوم ځای نیولی و.

د منځنیو پېړیو د دې تورې دورې عالمانو، کشیشانو او فیلسوفانو به د خپلو قالبي ذهني پایلو ته د رسېدلو لپاره هڅې کولې. غوښتل یې هر هغه څه، چې په دنیا کې لیدل کېږي، د خپل ذهن له حاضر او چمتو منځپانګې سره مطابق کړي. علمي واقعیتونه او مسلمات یې یوازې هغه وخت منل، چې د دوی په ذهني قالب کې ځایېدلی شوای.

البته دا ذهني قالب هم د پخوانیو او د سپېڅلي کتاب لخوا جوړ او سمبال شوی و. پداسې حال کې چې نوې پوهه او نوي پوهان په مخالف لور په بله لاره روان وو او د خپل اټکل او سنجولو بنسټ یې پر هغو کارونو ایښودو، چې د ازمېښت او څارلو سیده پایله وه.

باید هېره نکړو چې تل همداسې وه او همداسې ده چې ډېرانديي او زاړه پال غواړي چارې له خپلو اندونو سره مطابقې کړي، پداسې حال کې چې نوپالي او پوهان خپله نظریه د بهرنیو چارو د څارلو نه لاس ته راوړي.

د منځنیو پېړیو په هغه تور پېر کې هم همداسې وو. دوی به دنیا د خپل ځان له مخې تشریح او توجیې کوله، پداسې حال کې چې د نوې پوهې هوډ دا و، چې انسان د نړۍ له مخې توجیې کړي.

د پخوانیو علومو او نوې پوهې جګړه په همداسې پولې کې وه او تر هغه وخته چې د دې پولې شتون احساسېږي، دا جګړه به ادامه مومي.

هغه مهال چې د **ګالیلي** دوربین اسمان سورى کوه او د لمر او ستورو واقعیت یې بربنډولو، کلیسا په خپلو تعلیماتو کې خلکو ته داسې ښودنه کوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«په کومه ورځ چې څښتن تعالی «اموريان» بني اسراييل ته تسليم کړل، هغه وخت **يوشع** د بني اسراييل په حضور کې خدای ته تکلم وکړ او ويې ويل: اې لمره ته «جبعون» کې ودرېږه او ته ای سپوږمۍ‌په «ايلون» وادي کې. نو لمر ودرېد او سپوږمۍ متوقفه شوه، تر هغه چې قوم له خپلو دښمنانو غچ واخيست. آيا دا په «ياشر» کتاب کې مکتوب نه دي چې لمر د اسمان منځ کې ودرېد نږدې ټوله ورځ يې د پرېوتلو لپاره بيړه ونکړه.»*

نو ځکه، کله چې د نوی نجوم پوهې په کلکه او گستاخۍ سره خلکو ته ورزده کړل چې لمر د سپوږمۍ په نسبت اصولاً داسې حرکت نلري چې ودرېږي او سپوږمۍ پرته له دمې په حرکت کې ده او که يوه شېبه ودرېږي هر څه به څپڅپان شي، کليسا په چغو شوه او نوپالي ستوري پېژندونکي يې ملحد وبلل او د انسانانو د غوښې بوی يې اسمان ته پورته کړ.

کليسا باورمنه وه چې د هغه چارو ارزونه او څېړنه ازاده ده، چې په اړه يې سپېڅلي کتاب کې کومه خبره نه وي شوي او کليسا لا له وړاندې په هغه کې خپل نظر څرگند کړی نه وي. متفکران او مذهبي ايمان ته ژمن خلک کولی شي خپله پوهه او اند د حقايقو د درکولو په موخه په کار واچوي، خو کله چې د «مطلق قهري حقايقو» په درشل کې پښه ږدي، بايد بې له ځنډه د درناوي سر راټيټ او د کليسا تعبير او تفسير ومني.

هغه روښان فکرو ستورپوهانو، چې پښه يې د اسکولاستيک او کليسايي افکارو له بريده بهر کيښوده او څرگند حقايق يې د اسمان له زړه نه راايستل، له شکنجې سره مخ شول.

د پاريس پوهنتون استاد پوهاند **البرت باير** ليکي: د گروهې د تفتيش محکمه (روم کليسا پورې اړونده) له تورنو څخه د اقرار اخيستنې لپاره مرگونې

---

*لرغونی پېر ـ د يوشع بن نون صحيفه ـ ۱۱ باب، ۱۲ او ۱۳ آيتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکنجې کولی. دوی به یې په سیمي اغزنو دړو خملول، یا به یې له ډېرې لوړې ارتفاع ځمکې ته راغورځول چې له منځه ولاړ شي... ان دا چې ماشومان به یې د خپل مور او پلار په ضد شهادت ورکولو ته اړباسل.*

له دې سریزې سره ویلی شو، چې ګالیله او د هغه په شان نور کسان، څومره زړور او سرښندونکي ول او په کومه کچه د څرګندو علمي حقایقو لېوال وو، چې ګوښه والی یې نه منو او په جګړې بوخت شوي وو.

نوې پوهه به هېڅکله د خپل پلرونو ویاړلي نومونه هېر نکړي.

اوس د دې پلرونو د څو تنو پر سر تېرې شوې پېښې نکلوو، د هغو پلرونو، چې نوې پوهه د دوی د اند او زړورتیا زېږنده ده.

* * *

*د آزاد اندۍ تاریخ، ٦٥ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیکو براهه

**(۱۵۴۶_۱۶۰۱)**

تیکو براهه د دنمارک له اشرافزییانو څخه و. زوکړه یې په ۱۵۴۶ کې شوې وه. کله چې هغه د نجوم پوهې ته مخه کړه، کورنۍ یې هغه له ځانه ورټلو؛ ځکه چې اشراف طبقې، پداسې «بې ګټې پوهې» بوختېدل دخپل شان سپکاوی ګڼلو. وروسته د **براهه** علمي شهرت زیات شو. هغه د خپلې بېلګه ایزې رصدخونې له شا نه د اسمان او بې شمېره ستورو په نندارې بوخت شو. هغه د پراخو څېړنو په پایله کې وتوانېد د خپل هستوګنې جغرافیایي موقعیت وموميي. بیا د ستورو د ارتفاع په تعیینولو، د سپوږمۍ په حرکت کې په مطالعې او د سیارو د تګ لیکي په ټاکلو بوخت شو او ارزښتناکه علمي اکتشافاتو ته ورسېد.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# کپلر

**(۱۵۷۱-۱۶۳۰)**

کپلر د **تیکو** زده کوونکی و. د هغه تر ټولو مهم کار د نجوم د قوانینو کشف و.

**پییر روسو** د **کپلر** قوانین په دې شان بیانوي: «لومړی قانون موږ ته رازده کوي چې هره سیاره د لمر نه چاپېره بیضوي مزل کوي. دویم قانون ثابتوي، څومره هم چې سیاره په دې مسیر کې لمر ته نژدې وي، په هماغه اندازه یې حرکت هم چټک دی او بالاخره د دریم قانون په مرسته کولی شو د سیارې د دوران د مودې په لرلو سره، له لمر څخه د هغې واټن وټاکو.»



د ستورپوهنې لپاره د دې قوانینو کشف یوه ستره بریا وه. مثلاً همدا قانون د **نیوټن** لپاره د بریا کونجۍ وګرځېده او په دې قانون د سمبالتیا له لارې یې وکړای شول د عمومي جاذبې قوانین کشف کړي او له دې قوانینو سره دی، چې معاصر ستورپوهان کولی شي د سیاراتو د حرکاتو وړاندوینه وکړي او د هغوی اسماني تګ لیکه وکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګالیلې

**(۱۶٤۲-۱٥٦٤)**

ګالیله ایټالوی و.

پییر روسو لیکي: یوه ورځ، چې ګالیلی د کلیسا په مذهبي مراسمو کې ګډون کړی و، ویې لیدل چې په سر یې یو قندیل زنګیږي. دا موضوع ډېره عادي وه. خو ستر اندیالي دا ځانګړتیا لري، چې هېڅ څه ورته ابته او غیبي نه بریښي او د ډېرو ساده مسایلو او پېښو نه ستر درسونه اخلي. څومره ډېر به وي هغه کسان چې حس کړي به یې وي، چې بدن یې په اوبو کې سپکېږي او بره راخېژي، خو یوازې یو «ارشمیدس» پیدا کېږي،چې له دې څخه د «مایعاتو تعادل» د اصولو پایله واخلي او یوازې «نیوتن» کولای شي له مخې یې د «اجسامو د سقوط» قانون لاس ته راوړي.

د کلیسا د قندیل خوځېدل او لړزېدل د ځوان محصل لپاره د افکارو او تخیلاتو د برکت ډکه سرچینه وه. خو دې افکارو له ډېرې مودې راپدیخوا، مخکې له دې چې تېغ وکړي، ادامه درلوده او یوازې د دې دانشمند د ژوند په وروستیو کلنو کې وو چې میوې یې ورکړې، هغه میوې چې نن د ګالیلې ترټولو ځلانده ویاړلو عناوینو څخه ګڼل کېږي.

وروسته له دې چې ګالیلې ثابت مقام لاس ته راوړ، په لټه کې شو، چې د ارسطو د نفوذ پرضد په کلکه وجنګېږي او ثابت کړي چې له **کوپرنیک** سره هېڅ ډول اختلاف نلري. څرګنده ده چې د ګالیلې د نظراتو اوریدونکو شپېلي ووهل او شور ماشور یې جوړ کړ... ځکه د هغه مهال خلکو متقاعدول ګران کار و. دا کافي نه وه، چې هغو ته ووایې چې فلان او بسمان شی د کوپرنیک د دستګاه اغېزې ثابتوي او تاسې کولای شئ دا اغېزې په خپلو سترګو ووینئ. مهمه خبره دا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرې خبرې دلایل باید د سپېڅلي کتاب نه راایستل شوي وای، که ګالیلې سمه خبره کوي، نو ولې يې دليل له سپېڅلي کتاب څخه نه راوړي؟

د هغه پېر خلکو به همداسې ویل. تمه يې لرله چې د سپېڅلي کتاب د وینا په خلاف دې کوم حقیقت ونه ویل شي.

اوس نو باید په دې پوه شوو، چې کله د ګالیلې دوربین اسمان څېړې کړ او د سپېڅلي کتاب د وینا خلاف يې څرګند حقایق راوویستل، کلیسا به څومره عصباني شوې وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه چې ګاليلې د کليسا له چارواکو سره دوستي او اشنايي لرله، د مودو لپاره تر ځار لاندې رانغی. خو بالاخره د ګاليلې زړورتيا د کليسا د زغم له بريد نه واوخته او هغه يې د محاکمې او د عقايدو د تفتيش د ميز تر شا ودراوه.

له يوې دورې څېړنې او ازماينښت وروسته، ګاليلې پياوړی او غښتلی دوربين اختراع کړ او د بې سر او پايه اسمان په ننداره او ګرځندويې بوخت شو. هغه په پای کې په يو عجيب او بې ساري کشف بريالی شو.

سپوږمۍ يې وليده چې د **ارسطو** د نظر په خلاف، چې هغه يې صافه او صيقلي ګڼله، په بشپړه توګه په غرونو او درو ډکه ده، چې د لمر رڼا د هغې جګې لوړې لا ښکاره کړې دي.

ګاليلې همداراز ډېر پټ ستوري کشف کړل او ...

بالاخره هغه د خپلو علمي اکتشافاتو او تفکراتو پايله خپره کړه. د پوهې خاوندان او واقعيتپاله او نوپالي د دې پايلو په ليدلو خوښ شول، خو د «اسکولاستيک پلويان»، خيال اوبدونکي او ډبراندي او ايده اليستان په غوسه شول او غاښونه او منګولې يې تېرې کړې. ځکه چې هغوی غيرمذهبي استدلال ته هېڅ ډول درناوی او ارزښت نه ورکاوه. هغوی يوازې په يو شي قانع او خوښېدل: د سپېڅلي کتاب آيتونه او يا د هغو تفسير او تعبير.

د روم کليسا وروسته له هغه، چې ګاليلې د **بطليموس** هيأت پر ضد خپل غوڅ تعرض اعلام او له **کوپرنيک** نه يې ملاتړ وکړ، هغه يې احضار کړ.

يوازې د هغه لوړ علمي مقام او د کليسا په دربار کې د هغه د دوستانو اغېزناک نفوذ و، چې تر يو بريده پورې له هغه سره مودبانه چلند وشو.

د ادعاپاڼې له تنظيمولو وروسته ګاليلې يې ناچاره کړ، چې لاندې توبه ليک لاسليک کړي:

«**زه** - ګاليلې - **د ژوند په اويايم کال کې ستاسې حضراتو په وړاندې په ګونډو کېږم او په داسې حال کې، چې سپېڅلې کتاب مې د سترګو مخې ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دی او پخپلو لاسونو يې لمسوم توبه باسم او د ځمکې د حرکت له خبرې څخه، چې له تېروتنې ډکه او له حقيقته تشه ده، انکار کوم، دا خبره منفوره او مطروده ګڼم.»**

د ګاليلې د محاکمې رپوټ يې له سترګو نه پټ کړ چې د کليسا پرتم له مينځه ولاړ نشي او د مذهبي چارواکو له اندازې زياته عفوه او اغماض خوله په خوله نشي، ځکه «واتيکان» پر افکارو د واکمنۍ او د وېرې او ترارې له ايجادولو پرته بله دنده نه درلوده او له هغه شهرت څخه لاس په سر کېدلې نشوه، چې په بې رحمۍ او له علم سره د مخالفت له لارې يې لاس ته راوړی و.

ګاليلې په اتيا کلنۍ کې د **ديناميک علم** بنسټ کېښود او ويې ښودل، چې څرنګه **ځواک حرکت رامنځ ته کوي.**

هغه له ډېرو ازمېښتونو وروسته دې پايلې ته ورسېد، چې ټول اجسام په متساوي سرعت سقوط کوي. هغه د مردکيو د حرکت او تعاقب مفهوم ته هم پام وکړ او ثابته يې کړه چې مردکي پداسې حال کې چې د باروت د متحرک ځواک په زور په مخ ځي، د ثقل ځواک په پايله کې د ځمکې لور ته جذبېږي.

ګاليلې د ۱٦٤۲ کال د جنوري په اتمه له نړۍ سترګې پټې کړې او نړۍ يې سره له ټولې پراختيا هغو ته پرېښوده، چې تنګې سترګې لري او په هېڅ بيه حاضر ندي چې د پوزې له څوکې نه لېرې افق ته پام وکړي.

* * *

د کليسا لخوا د ګاليلې په شان کسانو محکوميت هېڅکله د دې مانع شوی ندی، چې دنيا دې له حرکت نه لاس پر سر شي. کليسايي اسکولاستيکانو له هر رامينځته کوونکي ناورين سره د خپلې رسوايې ډُل لااوچت درنګاوه.

ګاليلې او دهغه په شان کسان مړه شول، د کليسا لخوا محکوم شول خو تاريخ تل ښکاره کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«هغه کسان چې پر خپلو ولو د ازاد اندی کجاوه وړي، که څه هم چې له اوږو يې وينې څاځي، خو لاتراوسه له پښو ندي غورځېدلي.»*

چنگيز مرآتی
مهد آزادی آدینه
۱۳۴۴ کال د تلې او لړم میاشتې

*د آزاد اندی تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شعور، فکر او ژبې په اړه لنډې خبرې*

کار د انسان د تکامل او د هغه د شعور د ځرګندېدو او تکامل اساسي عامل دی. مشهوره وینا لرو چې «کار د انسان خالق دی».کار، انسان د هغه له وحشي او ځنګلي اجدادو څخه جلا کړ. کار انسان ته خواړه، جامې او پناهځای ورکړ او هغه یې نه یوازی د طبیعې ځواکونو څخه خوندي کړ، بلکې هغه ته یې پر طبیعي ځواکونو د تسلط پیدا کولو وس هم ورکړ. د کار په وسیله، انسان ځان لابر او لا بر کړ او د ځمکې کُرې ته یې بدلون ورکړ. کار د انسان ترټولو ستره شتمني ده او د هغه د ژوند او تکامل لازمه اړتیا ګڼل کېږي.

د کار تکامل او سمون د شعور له تکامل سره یو ځای مخې ته تللي دی. انسان د ژوندانه د اړتیاوې د پوره کولو په بهیر کې د ګڼو شیانو سره مخ کېده او د هغوی صفتونه به یې یو په یو زده او له یو بل سره به یې پرتله کول او تر مینځ به یې ګډه ځانګړنه موندله او پدې توګه به یې «مفهوم» جوړاوه.

د کار د ابزار جوړول او سمول د شعور په تکامل کې ډېر اهمیت لرلو. هغه ابزار به چې له یو کهول نه بل کهول ته لېږدول کېدل، د هغوی پوهه او تجربه به یې هم له ځانه سره لرله. وروستي کهولونه به د خپلو پلرونو د وزلو جوړولو او په کار اچولو په طریقو پوهېدل او قادر وو د هغوی د کار لړۍ پر مخ وغزوي او د کار د ابزارو د سمون او تکامل لپاره هڅه وکړي.

د لومړني انسان شعور په بنسټیزه توګه د هغه په کار پورې تړلی و. لا ښه به دا وي، چې وواېو د هغه شعور او عملي فعالیتونه یو په بل کې پېچل شوي وو. مثلاً د دې استنباط کولی شو، چې انسان وړاندې له هر څه زده کړل، چې کوم شی سیده د ده په کار پورې تړلی دی او اړتیاوې یې پوره کوي. پدې توګه د کار

---

*«د شعور، فکر او ژبې په اړه خبرې» مقاله چې په یوې مجلې کې چاپ لپاره چمتو شوی وه، د لکیوال د یادښتونو په مینځ کې پیدا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر بنسټ د کار او فکر یووالي شعور مخ په وړاندې یووړ او تکامل یې ورپه برخه کړ.

ژبې، واضحې خبرې، د شعور په تکامل کې زیات ارزښت درلوده. ژبه، چې د کار پر بنسټ له شعور سره یو ځای راڅرگنده شوه، انسان سره مرسته وکړه چې د حیواناتو له ډلې څخه راووځي او د خپل د فکر ځواک لا متکامل کړي.

کار تل ټولنیزه بڼه لرلی ده. انسانان له هماغه لومړیو ورځو نه مجبور وو د طبیعت له سترو ځواکونو سره د مقابلې او د ځناورانو د ښکار لپاره سره یو شي. همدا لامل و، چې په لومړنیو انسانانو کې د گډ ژوند اړتیا پیدا شوه او همدا اړتیا دوی مجبور کړل، چې یو بل ته څنگه چې هم کېدل یو څه «ووایي». د دې سختې اړتیا لازمه دا وه، چې د بیزو تکامل ناموندلې حنجره دې په داسې غړي بدله شي چې وکولی شي د وینا واضح غږونه راوباسي.

ژبه د افکارو سیده واقعیت دی. افکار کولی شي یوازې او یوازې د کلمو په قالب کې شتون ولري. کله چې موږ له ځان سره فکر کوو یا خپل افکار اوچت اوچت بیانوو یا هغه د کاغذ پر مخ راوړو، نو تل په کلمو کې شتون موندي. افکار نه یوازې پخپل جوړښت کې د ژبې پوروړي دي، بلکې د ژبې په وسیله منتقل او درک کېږي. انسان د کلماتو له تجمع او په کلماتو سره کولای شي په خپل شعور کې د بهرنۍ عیني نړۍ د واقعیت انعکاس ټیکاومن کړي او همدا ټیکاو نه یوازې دا چې انسانان ځواکمنوي چې د اندونو مبادله وکړي، بلکې د یو کهول نه بل کهول ته هم د اندونو د انتقال لامل کېږي. له وینا او لیکنې پرته د نسلونو گران بیه تجربې به هېرېدلې او هر کهول به مجبور و د نړۍ د مطالعې بهیر له سره پیل کړي.

ژبه د افکارو له لارې (د هستۍ نظام) له واقعیت سره تړاو مومي. له دې کبله کله ستونزمنه ده، چې د یوې ځانگړې کلمې اړیکه له یو خاص شي سره ټینگه کړو. په بېلابېلو ژبو او ان کله په یوه ژبه کې، یوه کلمه د گڼو شیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومولو لپاره کارېږي او یا له ګڼو کلمو څخه د یو شي د نومولو لپاره کار اخیستل کېږي. دا ټولې قضیې لامل شوي، چې ځینې خیال وکړي ژبه له واقعیت نه جلا ده. د هغه بې بنسټه فلسفې جرړې هم په همدې خیال کې نغښتي دي چې لارویان یې باورمن دي، چې ژبه له افکارو نه مستقله او همدا شان افکار له واقعیت څخه خپلواکه دي او معتقد دي چې کلمې په خپله خوښه د انسانانو له خوا نه کارول کېږي او هېڅ واقعي شي ته اشاره نه کوي، په بله وینا، کلمې د غږونو مطلق ترکیب دی.

د دې قضیې نه ځینې داسې پایله اخلي چې ښکېلاک، زبېښناک، تېری، دیکتاتوري او داسې نور په مطلق ډول کلمې او پوچ غږونه دي او ادعا کوي که چېرې خلک نورې مرکبې کلمې او غږونه د دی کلمو پر ځای کېږدي، ټول تضادونه او ټولنیزې ترنګلتیاوې او زبېښناکونه او تېري به ورک شي.

باید د دې چال او دوکې رسولانو ته ووایو، چې نه یوازې کلمې په خپله خوښه د خلکو لخوا نه کارول کېږي، بلکې په یوه ځانګړي شي یا ښکارندې پورې تړلي دي چې د کار او عملي کړنو په بهیر کې پېژندل کېږي. واقعي عیني بهیرونه د کلماتو له بدلېدو سره نه بدلون مومي او نه هم له منځه ځي. د بېلګې په توګه سترو پانګه والو، د دې لپاره چې د ځمکې د مخ د ملتونو د زبېښناک لپاره پلمه ومومي او خپلو سود غوښتونکو کرکېجنو کړنو ته ښایسته تعبیر ورکړي، په لسګونو خوله ډکونکې کلمې لکه: «ملي پانګوالي»، «بشر دوستانه اقتصاد»، «طبیعي نظام»، «ازاده نړۍ» یې اختراع کړي. الماني هیتلري فاشیستانو د دې لپاره چې خپل جنایتونه په حقه ښکاره کړي، ځانونه یې «ملي سوسیالیستان» وبلل، خو څنګه چې پوهېږو دې ډول «ښایسته تعبیر»ونو هېڅکله د زبېښناک او ښکېلاک او بیکاري او تضاد او د دیکتاتورانو د جنایاتو آثار له منځه وړي نه دي.

نه ښایي چې داسې وانګېرو چې شعور انفعالي حالت لري او یوازې کولی شي (د هستۍ د نظام) واقعیت منعکس کړي. شعور د مادې د ژور او اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکامل عالي محصول دی او پخپله په فعال ډول د هغې په تکامل کې دخالت کوي. شعور هېڅکله په انفعالي حالت کې نه پاتی کېږي، بلکې په فعاله توګه نړۍ کې نفوذ کوي او هغه بدلوي او جوړوي. البته منظور دا نه دی، چې نړۍ دې په رښتیا هم د بشر د شعور له امله جوړه شوي وي، بلکې غواړو ووایو که شعور، نړۍ هماغسې چې ده منعکس او پر هغې واکمن قوانین په سمه توګه کشف کړي، د انسان لپاره به ښه لارښود شي چې د خپلو پنځونکو کارونو په ترڅ کې، ژوندون بدل او د ژوندانه وړ یې کړي.

چنګیز مرآتي
د ٤٧ کال وړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## «د لمر د جوړښت» د کتاب ارزول او څو نورې خبرې

د پورتني کتاب لوستل په ما کې یوه کلکه گرومه راوپاروله او دا خبرې او لیکنه د همدې عقدې د خلاصولو پایله ده.

په داسې پېر کې ژوند کوو، چې د دولتونو د نفوذ پراخولو او سیاسي لوبولو لمن ان د علم او هنر چاپېریال ته هم راغزول شوی ده. پرېکنده علمي حقایق (په فیزیک، نجوم، اقتصاد او فلسفه او ... کې) تر هغه ځای افشاء کوي او د خلکو په مینځ کې یې دودوي، چې د نړۍ «ورځنی سیاست» یې غواړي. علم او هنر تر هغه برېده مجاز گڼل کېږي، چې د خلکو د ذهنونو په قالبونو کې تزلزل رامېنځته نکړي، بلکې دوی د نړۍ د « ورځني سیاست» لخوا جوړو او سمبال شویو فکري قالبونو ته په باور کې لا کلک کړي.

دا دولتونه اړین نهویني، چې په دی دې څوک پوه شي چې فضایي مسافرتونه او د سپوږمۍ پر سطحې باندې کښېناستل په خپله ځینې مخکېني ذهني قالبونه دړې وړې کوي او نوي فکرونه رامینځته کوي. د دوی په باور همدا چې په غرمنۍ ورځپاڼو کې دوه کرښې د دروغ او رښتیا خبرونه ولوستل شي او که نه، کافي دي...

امریکایي فلمونه هره ورځ د سینما پر پردې ننداري ته اېښودلې کېږي او په هر یوه کې د امریکا د بهرني سیاست پل لیدل کېږي. د هغه هېواد د ډېرو کمو فلمونو ننداري ته په ډاډه زړه کېناستلای او ویلی شوو، **چې فلم جوړونکی د نندارچي د غولولو او د هغه د ماغزو او ځان د لوټولو په لټه کې نه دی.**

د امریکې د ډېری فلمونو لوبغاړي «هوسا او د بېلگې په توگه نیکمرغه او بې اندېښنې» خلک دي، یا هم که د فلم په لومړیو او مینځ کې له نهیلي سره مخ کېږي نو د فلم په پای کې هرومرو خپلې هیلی او وصال ته رسېږي او فلم تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

«خوشاله پای» لري. یانې هر څومره چې هلې ځلې، زیار او ستونزې وی، پای ته رسېدلي او اوس د «خوشالۍ او نیکمرغۍ» دوران دی.

آه، چې څومره پرېمانه نېکمرغۍ د خلکو تر پښو او لاسو لاندې پرتې دي!

د امریکایي د دې ډول فلمونو اتلان ګواکی، چې «هیله، نیکمرغي، خوشګذراني، د کښته نیمایي تنې مینه، ځواني، لنډه غري او بی خیالي او...» ډالۍ کوي.

یوه بله ورځ باید د دا ډول امریکایي او بیا د ایراني فلمونو نورې ځانګړتیاوې روښانه کړو.

هغه لیکوال، چې د امریکی د مشرانو د مطبوعاتي مرکو او ویناوو په خلاف خبرې لري، ناپېژندلی او «مطرود» ګڼل کېږي، خو د نورو لسګونه لسګونه کتابونه د نورو هېوادونو په امریکایي کتابتونونو کې اېښودل کېږي. ورځپاڼې د دوی یو وړوکی کشف په ډېر آب و تاب او په زیږو تورو په لومړي مخونو کې لیکي، خو د نورو علمي کشفونه، ګواکی چې اهمیت نلري، له پامه غورځوي او یوازې یو لنډ خبر یې د ورځپاڼې په آخرو کالمونو کې خپروي.

د بېلګې په توګه خپل علمي کتابونه په خروارونو ژباړي او چاپوي (البته د پوهې په بېلابېلو څانګو لکه ټولنیزو، اقتصادي، روزنیزو او نورو علومو کې) او په اصطلاح «امریکاییزه»او بی تفاوته علمي افکار په هوسا فکر د خلکو مخې ته تویوي. که چېرې یو دوه ښه کتابونه هم چاپ شي د هغه ډېران لاندې ورک او تري تم کېږي او یوازې ځیرک او هڅاند لوستونکي کولای شي هغه یو دوه پیدا کړي او پاتې نور لېرې ګوځار کړي.ګواکی دوی په خپله اړباسي، چې هر امریکایي شی د شک او تردید په سترګه وګوري.

*　　　*　　　*

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوند چې د علمي حقايقو د پوهېدلو، د بېلګې په توګه د اسمان، د انسان او د ځمکې د تېر له پوهېدلو څخه اخيستل کېږي، له بل هېڅ خوند سره د پرتلې وړ نه دی. البته د نوپيله لوستونکي لپاره د علمي کتابونو پوهېدل او شنل سخت دی او شايد ستومانه کوونکي يې هم وګڼي. خو دا لنډمهاله مسئله ده.

يو له هغه علمي کتابونو څخه، چې په دې وروستيو کې د ډېرې مودې لپاره زه له ځان سره بوخت او فکر کولو ته يې اړ کړی يم او ډېر خوند مې ترې واخيست، همدا «د لمر جوړښت»کتاب دی.کتاب مې تر وروستې کلمې پورې په خوند ولوستو او د زړه له تله ډاډه وم، چې ليکوال او خپرونکی زما د فکر او ځان د لوټلو په لټه نه دی او نه غواړي چې «قرنطينه شوې» او د ژوند سره نااړونده پوهه راوسپاري.

ليکوال د بې پايه اسمان او بې شمېره اجرامو او د هغوی د جوړښت او ترکيب او د اړيکو په اړه ځرګنده علمي حقايق په بشړې روښتيا بيانوي او کله کله د بيان شويو حقايقو څخه نوي استنباطونو کوي او پخواني ژوند، اندونو او استنباطونو ته رجوع کوي او دا دواړه نوي او زاړه استنباطونه د يو بل مخې ته ږدي.

البته د قضاوت ور يې هېڅکله د لوستونکي په مخ ترلی نه دی او د هغه په غاړه ده، چې لا ډېر او اصلي استنباط ترېنه وکړي. سربېره پر دې، ليکوال يې هېڅکله هم کولي نشي- د تبريزيانو په وينا - ژولې مړی او د لوستونکي په خوله کې کېږدي. لوستونکي بايد په خپله د ليکوال په شان زيار وباسي او د هغه د کلمو او جملو له مينځه يې افکار راوباسي. په اصطلاح لوستونکی بايد عارف وي، په يوه نغوته بايد بسنه وکړي او له هغې نغوتې تفصيلونه ولولي. هر څه خو نه کېږي چې په تفصيل او جز په جز ووايو. ليکوال کېدای شي د تار سر د لوستونکي لاس ته ورکړي او لوستونکی بايد تفکر او څېړنه وکړي، چې د تار پای په کوم ځای کې غوټه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د لمر جوړښت» څخه غربېدلو.

دا، لومړنی کتاب نه دی،چې د شوروي پوهانو له علمي څېړنو څخه فارسی ته ژباړل کېږي. له دې مخکې مو نور کتابونه هم لرلي دي، لکه: **د حیات سرچینه او تکامل** د پروفیسور اپارین اثر، او **لمریزه منظومه** د اتواشمیت تالیف، د **انسان منشا** د میخائیل نستورخ اثر د **بوټو بومي کول** د میچورین اثر او ...

«د لمر جوړښت» کتاب شپږ څپرکي لري. لومړی څپرکی په ټولیز ډول د ستورو او لېرې پرتې نړۍ په اړه دی. دویم څپرکی د اتمي هستې او د هغه له بدلونونو څخه بحث کوي. پاتې څلور څپرکي د لمر د جوړښتي عناصرو، جوړښت، داخلي وضعې، له یو ډول څخه بل ډول ته اوښتل او تاریخچې او د کوسموګني اختراع (په ستورپوهنې کې د نوې څانګې) په اړه خبرې کوي.

«د لمر جوړښت» کتاب په خپل کوچني قطعې او حجم سره ډېرو پېچلو او ژورو علمي پوښتنو ته پرېکنده او روښانه ځوابونه ورکوي.

د بېلګې په توګه لاندې پوښتنې:

۱.آیا رڼا هم د نورو اجسامو، لکه د تیږې او اوسپنې په شان جرم لري؟ هو. له ډېرو ازمایښتونو سره دا پایله اخیستل شوی چې رڼا پر اجسامو د ځلېدلو پر مهال د هغوې پر سطحې فشار واردوي او همدا واقعیت ثابتوي چې رڼا جرم لري. (مخ۴۴).

۲.آیا نوي ستوري د رامینځته کېدلو په حال کې دي؟ (مخ۱٦۱)

۳.آیا دنیا پیل هم درلودلی دی؟ (مخ ۱٦۷)

۴.د لمر د رڼا د انرژي او تاو سرچینه څه ده؟ (مخ ۱۳۴).

۵.آیا زموږ لمر، چې یو منځنی لمر دی او یوازې ٦۰۰۰ درجې سانتي ګراد تودوخه لري (د نورو لمرونو د تودوالي درجه تر ۲۵۰۰۰ درجې سانتي ګراد پورې رسېږي) (مخ ٦) یوه ورځ به ګل شي؟ (مخ ۱۵٦) که داسې وشي نو بشر څه دنده لري؟ آیا کولای شوو نورو کروو ته مهاجرت وکړو؟ (وروستی څپرکی).

(c) ketabton.com: The Digital Library


۶.آیا کولای شو د اسماني اجسامو په راز پوه شوو؟ لیکوال په بشړه پربکندتیا سره څرگندوي وي چې هو، د هغو کارونو په مرسته چې تر سره شوي او تر سره کېږي انسان کولای شي د اسماني اجسامو جوړښت او څرنگوالی کشف کړي. (مخ ۷۳).

* * *

ځیرکو او لېوالو ژباړونکو او خپرونکو ته د ډېرو او سمو او نه «غلبیل شویو» علمي کتابونو په ژباړلو او خپرولو کې لا بریا غواړو.

چنگیز مرآتي
مهد آزادي آدینه
د ۱۳۴۵ کال د ثور میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هغه کسان چې پر خپلو ولو د ازاد فکرۍ کجاوه وړي، که څه هم چې له اوږو
يې وينې څاڅي، خو لاتراوسه له پښو ندي غورځېدلي.»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**